# <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

## د ډاکټر ذاکر نایک د موضوع تر شا څه دي؟

په مالیزیا کې د ډاکټر ذاکر نایک موضوع د ډېرو بدلونونو لامل شوه، چې ټول لوړ پوړي ملي او سیاسي مشران، مسلمان او نامسلمان لکه: پولیس، غیر دولتي سازمانونه، مفتیان، روښنفکران، لیبرالیستان او په ټوله کې عام خلک د دغه نامتو دعوتګر په اړه یو له بل سره خبرې کوي. دغه موضوع هغه وخت رابرسېره شوه، چې د ۲۰۱۹ کال د اګېسټ په ۱۰مه په کالانتان ښار کې د ډاکټر ذاکر نایک خبرو په مالیزیا کې د مېشتو چینایانو او هندیانو احساسات راوپارول. پاکتن هارپن او ډېرو نورو سیاسي ګوندونو پر حکومت فشار راوړ، چې ډاکټر ذاکر نایک بېرته خپل هېواد هندوستان ته ولېږي، چې د جنایي تورونو لپاره هلته بلل کېږي. ډاکټر ذاکر نایک څو ځله په ډاګه ویلي، چې د ده له وینا څخه ناسم پوهای شوی. له هغو خلکو څخه چې د ده له وینا څخه یې د نارامۍ احساس کړی، په عمومي توګه بښنه غوښتې. خو اوس هم نوموړی دعوتګر د مالیزیا څخه وتلو ته اړ ایستل کېږي، په تېره بیا د نامسلمانو او لیبرالیستان له لورې چې کرکه ورسره لري. د مالیزیا لومړی وزیر ډاکټر محاضر بن محمد خپله هم د هغو کسانو د فشار له امله له ورایه وارخطا ښکارېد، چې د ډاکټر ذاکر نایک ایستل یې غوښتل. تر دې چې نږدې و خپل ذهن بدل کړ، څو ډاکټر ذاکر نایک له خپل هېواد څخه وباسي. نږدې یوه میاشت وروسته خبرې اترې پای ته ورسېدې. محاضر بلاخره پرېکړه وکړه چې ډاکټر ذاکر نایک به بېرته نه لېږي؛ خو نوموړي دعوتګر ته نوره اجازه نه ورکول کېږي، چې د مالیزیا په ټولو ایالتونو کې خبرې وکړي.

له دې څخه چې ښایي ډاکټر ذاکر نایک په خپله وینا کې تېروتنه کړې وي، انکار نه کوي. کوم شی چې ډېر بد دي هغه دا چې ځینې خلک له دې موضوع ناوړه ګټه اخلي او اور ته لمن وهي چې ډاکټر ذاکر نایک خپل هېواد ته ولېږي. که چېرې د ډاکټر ذاکر نایک وروستۍ خبرې په مالیزیا کې د ډېرو سیاسي او سازماني مشرانو له تبعیضي خبرو سره پرتله شي دومره خطرناکې نه دي. لنډه دا چې په مالیزیا کې خپله خلک د تبعیض او تعصب اور ته لمن وهي او تر اوسه په دې هېواد کې د تبعیض اور نه دی سوړ شوی. له همدې امله د ډاکټر ذاکر نایک موضوع دومره ستره نه ده، څومره چې ښکاره ګوندونو ترې ستره موضوع جوړه کړې. پرته له دې چې ژور فکر وکړو، موږ پوهېږو چې د ډاکټر ذاکر نایک دوښمنان، یا نامسلمانان یا هم لیبرالیستان، چې له مالیزیا څخه د ډاکټر ذاکر نایک شړلو ته لېواله دي، دلیل یې د هغه مفکورې دي، چې د دوی هېڅ نه خوښېږي. ډېری ګوندونه، خپله د دیني چارو مسول وزیر د ډاکټر ذاکر نایک د دعوت بڼه په مالیزیا کې د دینونو د پرتله کولو پر اساس سمه نه بولي، ځکه چې دا هېواد له ډېرو ټولنو څخه جوړ شوی دی.

په دې اړه، موږ حزب التحرير- ولايه ماليزيا غواړو ووايو:

۱) ډاکټر ذاکر نايک يو له زرګونو دعوتګرانو څخه دی، چې بايد د داسې حکومت د ساتونکو له خوا وساتل شي، چې د اسلامي حکومت دعوا کوي. ايا هغه په خپلو خبرو کې تېروتنه کړې؟ که داسې وي هغه يوازې يوه تېروتنه ده چې بايد تصحيح شي. تېروتنه د دې لامل نه شي، چې هغه له هېواده بهر وايستل شي. د مسلمانانو له لوري نامسلمانانو ته وسپارل شي (چې د هغوی له لوري ورسره بې انصافي وشي يا هم ووژل شي) چې دا کار حرام دی. لکه چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ»**

(البخاري)

***ژباړه:*** *يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه ظلم پرې کوي او نه يې ظالم ته سپاري.*

۲) د حکومت له لوري ډاکټر ذاکر نايک ته د دايمي اوسېدو حق ورکړل شوی. دغه حق يوازې بايد له ډاکټر ذاکر نايک څخه وانه خيستل شي، بلکې له هغو مسلمانانو څخه هم وانه خيستل شي چې ځانونو ته يې په ماليزيا کې خوندي ځای پيدا کړی. د ډاکټر ذاکر نايک په پرتله ډېر نور مسلمانان ساتنې ته اړتيا لري، لکه د روهينګا، سين کيانګ، بنګله ديش، اندونيزيا، صيام، سوريه، فلسطين مسلمانان او هغه کسان چې په خپل هېواد کې د سياسي نارامۍ او ظالمو چارواکو له لوري اړ شوي، چې ماليزيا ته راوتښتي. هغه که ډاکټر ذاکر نايک يا هم نور مسلمانان وي. هغه کسان چې ساتنې ته اړتيا لري او غواړي په دغه هېواد کې واوسي، بيا نو په حکومت واجب ده چې د دوی مرسته او ساتنه وکړي، دوی بايد لکه څنګه چې اسلام غواړي د قانوني اوسېدونکو په توګه ومنل شي. پيغمبر صلی الله عليه وسلم او خلفا راشدينو هغو مسلمانانو ته چې غوښتل يې په اسلامي هېوادونو کې واوسېږي ښه راغلاست ويل او ټول د مهاجرينو نه، بلکې د اتباعو په توګه منل کېدل. ځکه چې ټول اسلامي هېوادونه په مسلمانانو پورې اړه لري، اسلامي خاورې په ځانګړو توکمي او نژادي ډلو پورې نه دي تړل شوې، هر مسلمان په دغو هېوادونو کې چېرې يې چې زړه وي، اوسېدلی شي.

۳) اسلام نه يوازې مسلمانانو ته، بلکې د نامسلمانو پر مخ هم چې غواړي اسلامي هېوادونو ته راشي، خپلې دروازې پرانيستې دي. اسلام حتا په خپل هېواد کې حربي کافر ته هم تر يو کال پورې د اوسېدو اجازه ورکوي او که وغواړي له يو کال څخه ډېر پاتې شي، نو بيا بايد جزيه ورکړي او دوی د يوه تړون مستحق او هېواد اتباع ګرځي، چې کافر ذمي بلل کېږي. اسلام تر ۱۳ پېړيو ډېر پر نړۍ واکمني کړې او د خلکو تر منځ يې تر هغې

پورې عدالت ټینگ او ویاړ په برخه کړی، چې تر اسلامي قوانینو لاندې يې ژوند کاوه. په دغه حالت کې هم مسلمانان او هم نامسلمانان شامل وو.

۴) هر دعوتگر چې له تاوتريخوالي پرته له روښنفکرو لارو چارو کار اخلي، پر حقيقت ولاړې او معقولې خبرې کوي، بايد د کوم گوند له لوري بندي نه شي. له خبرو سره بايد په خبرو جگړه وشي، نه په زور او ځواک سره. عقيده بايد په خبرو سره ثابته شي او دين بايد د خبرو او مفکورې له لارې عملي شي. بد بختانه، یو شو گوندونه چې له روښنکفرانه لارو چارو څخه کار نه شي اخیستی، تعصب ته لمن وهي او د دوی له امله دا جنجال رامنځته کيږي، نه د دعوتگر له امله. که دوی ځان ته روښنفکران وايي بايد له خبرو سره يې په خبرو جگړه کړې وای، نه دا چې له هغه سره نژادي تبعيض او د تابعيت د موضوعاتو په اړه جگړه وکړي. همداسې، حکومت بايد مناظرې او خبرو اترو ته لاره هواره کړي، چې حقيقت ښکاره شي، نه دا چې له زور څخه کار واخلي، دعوت وځپي او يا يې د اسلام مخلافينو ته وسپاري.

له ډېرو کلونو راهيسې د دينونو تر منځ د گډو فکرونو موندلو موضوع يا د مذاکرې او خبرې اترو لپاره عام ځایونه د حکومت له لوري د ساعت تېرۍ په ځایونو بدل کړې دي او د ځانگړو ډلو پر یوه اجنډا اوښتې. له شک پرته، دغه مفکوره له کفر ـ لويديځ څخه راغلې چې غواړي د اسلامي عقيدې ريښې له بېخ څخه وباسي او له امت څخه غواړي چې ټول دينونه ومني او دوی ته ووايي، چې يوازې د اسلام دين حقيقي نه دی. دا هغه څه دي چې لويديځ يې د پلي کېدو پلان لري. له بده مرغه د پلورلېزم مفکوره د مسلمانو مشرانو، نامتو او عادي پوهانو له لوري منل شوې ده. نامسلمانان او ليبراليستان چې د مفکورې له مخې له ماتې سره مخ دي، دغه حقيت نه مني چې د دوی دين او عقيدې ناسمې دي او اسلام يوازينی حقيقي دين دی. د ديني حساسيت تر پلمې لاندې د چارواکو له خوا د دعوت د کاروان مخه نيول کېږي. له شک پرته، د ډاکټر ذاکر نايک او ډېری نور دعوتگران يوازې د اسلامي عقيدې حقيقت او د کفري عقيدو خرافات بيانوي. دا کار د مفکورې رسولو له لارې کيږي، نه د سپکاوي له لارې، په داسې حال کې چې تاوتريخوالی خو لا ډېره لرې خبره ده. داسې ښکاري چې په ماليزيا کې مسلمانان نه يوازې د ليبراليزم او پلورليزم مفکورو له لارې تر تهديد لاندې دي، بلکې په نوي حکومت کې دوی په ښکاره توگه دغې مفکورې ته په ليوالتيا سره لار هواروي!

**عبدالحكيم عثمان**

**په ماليزيا کې د حزب التحرير مطبوعاتي وياند**

**د صدور گنه: ۰۱/۱۴۴۱**

**۱۴۴۱ د محرم ۵مه**

**۲۰۱۹ د سپټمبر ۴مه**